ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۱۸/۰۸/۲۰

# د افغانستان د اوبو زېرمې او د هغوي مديريت

دا ليکنه د افغانستان نن او سبا علمي سيمينار د پاره چمتو شوي وه

اوبه اسماني سره زر د افغانانو د ملي عزت او حيثيت يوه ستره الهي شتمني.
اوبه د بشريت په وده کې يو خورا مهم ارزښتمن توکی دی. د نړۍ ستر تمدونونه اوبو ته نږدې وده کړي او د نړۍ سترې امپراتورۍ د اوبو پر غاړه په پښو دريدلي دي. اوبه يواځې د ښناک لپاره نه دي، بلکې د کرنې، سوداګرۍ، ترانسپورټ او په دفاعي چارو کې هم کاريدلي دي. پرته له اوبو کرنه، صنعت او ژوند ناشونې دی.
اوبه د ښښتن تعالی يو ستر نعمت دی، چې خپلو بنده ګانو ته يې ډالۍ کړی دی. د ځمکې پر مخ په زرغونو زرغونو بڼونو کې د ښناک اوبه بهيدل د جنت باغونو سېمبولونه دي. انسان ته د اوبو قدر او ارزښت په تږه او دښته کې جوتيږي. اوبه د ژوند مهمه اړتيا ده.
سړی کولای شي ډير وخت بې له خوراکه ژوند وکړي، خو په لږو ورځو کې بې له ښناکه ژوند نشي کولای. له اوبو پرته پر ځمکه ژوند ناشوني دی. د اوبو ځای هيڅ شی نشې نيولی او د انسانانو، ځارويو او نباتاتو د ژوندون يواځينی توکی دی. د بشريت په تاريخ کې يو تکۍ خورا مهم ځليدلې دی، هغه يو نا ليکلې شوې حق د هر انسان د ښناک پر اوبو دی. د ښناک اوبو حق هر چيري شته. د اوبو حق يو له ډيرو زړو حقونو څخه ګڼل کيږي. د ښناک اوبه له پامه نه غورځېدونکې بشرې حق دی.
نړۍ کې اوبه له يوه پلوه ورکيږي، له بل پلوه هممهاله په ډيره بې رحمانه، ظالمانه او نا انډوله توګه وېشل کيږي. د اوبو کمښت اغېز په مستقيمه توګه پر بې وزلو خلکو پريوځې. د ښناک اوبو له کمښت سره د دريمې نړۍ هيوادونه مخامخ دي. پوښتنه دا ده، آيا په ريښتيا اوبه په خلاصيدو دي او همدارنګه په نړۍ کې د اوبو کمښت چيرته ليدل کيږي. په شمالي افريقا، منځني ختيځ، منځنۍ آسيا او د استراليا به ځينو برخو کې د اوبو په کيفيت او کميت کې بدلون ليدل کيږي. په هسپانيه کې د اروپا لومړنۍ دښته رامنځته شوي ده. د دې سربيره ډيرې ډنډې اوسنيدونه وچ شوي دي، لکه په آسيا کې د اورال ډنډۍ اوبه يادولي شو.
د اقليم کارپوهانو د اټکلونو پر بنسټ په نږدې راتلونکي کې به تر ۲۰۲۵ کلونو په افريقا، پاکستان او هند کې نږدې ۱،۸ ميلیارده وګړې د اوبو له کمښت سره ژوند وکړي.
اوبه په طبيعت کې يو ډير په زړه پورۍ عنصر دی. ځمکه ۷۱ سلنه پر اوبو پټه ده. اټکل ۹۷ سلنه د ځمکې اوبه مالګنې دي. ۳ سلنه اوبه د ښناک خوړې اوبه دي. اوبه په نړۍ کې يواځينی توکی دی، چې د ځمکې پرمخ د غازو، مايعاياتو او کنګل په څېر شتون لري.
په نړۍ کې ۱،۲ ميلیارده انسانان د ښناک پاکو اوبو ته هيڅ لاسرسي نه لري. ۲،٤ ميلیارده انسانان چې د نړۍ ٤۰ سلنه وګړي جوړه وي، دوی نه شي کولي خپلې کارول شوي اوبه په سمه توګه راغونډې او بير ته تصفيه کړي. په دريمه نړۍ کې همدا ناولې او چټلې اوبه د کاناليزسيون نشتوالې له امله د ۸۰ سلنې ناروغيو لامل ګرځې.
وسمهال د کيميا او فزيک پوهان او د اوبو متخصصين او انجينران په نوي پر مختللي ټکنالوجۍ کار کوي او څېړنې ترسره کوی، څو په راتلونکي کې د اوبو د کړکيچونو مخه ونيول شي. په نړۍ کې نن هر دريم انسان د طبيعي ناورينونو له امله له تږې او وچکالۍ کړيږي.
په نړۍ کې دريمه برخه خلک د اوبو له کمښت څخه زيامن شوي دي. د نړيوالو څېړونو او پلټنو پر بنسټ د اوبو دغه اوسني کمښت يا لږدوالي بايد شتون ونه لري، ځکه په نړۍ کې اوبه په کافي اندازه شتون لري اکثراً سياسي کړکيچونه د اوبو د عادلانه ويش مخه نيسي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

## د اوبو کمښت لاملونه او اغېزې

د اوبو کمښت او اغېزې لاملونه اکثراً ځنځېري دي. د اقليم بدولون، د وګړو وده يا چټکه ډېرېدنه، نړيواله اقليمي تودوښه، په صنعتي فابريکو کې د ځښتو ډېر اوبو کارول او بې ځايه مصرفول او د اوبو ککړتيا وې دي. همدارنګه د اوبو کمښت سره ناروغی لوړه او قحطی رامنځته کيږي.د اوبو کمښت له امله خلک اجباري کډوالی ته مجبور کيږي او د اوبو پر سر شخړې، لانجې او جګړې رامنځته کيږي.

## د اوبو د نړيوال کړکيچ د حل لارې چارې.

پر نړيوال کچ اړينه ده، يوه پراخ بنسټه، پايښت لرونکې ټولمنلي نړيوالي تګلارې غواروي وشي او د ښناک اوبو لپاره د نړيوالي ټولنې اوږد مهالي موخې او نوښتونه بايد داسي پلې شي، چې ټول بشريت ته د ښناک اوبو د لاسرسی لارې چارې خلاصي شي او تخينکي اسانتياوې ورته برابرې شي. نړيواله ټولنه بايد همماله د اوبو د موثري زېرمې مديريت پلانونه طرح او پلي کړي. په ټولو برخو کې مهمه د کرنيز سياست برخه ده، د اوبو زيرمې او سيما لپاره يوه نوې تګلاره رامنځته شي. ځو پر نړيواله کچ د اوبو کمښت، لږدوالي او کړکيچونو مخنيوې وشي.

موږ په خپله بايد څه وکړو، موږ مجبور يو د خپل د ژوند ډول بدل کړو. په لومړي ګام کي بايد په ټوله نړی کې د کاربونډايوکسايډ کمښت رامنځته شي. د سکرو، تېلو او کمياوې توکو فابريکې بايد ودرول شي، د ډيزلي موټرو چلول بايد کم او ورک شي، د ځنګلونو وهل بايد ودرول شي، د اوبو بې ځايه ضايعاتو ته د خلکو پام اړول، د لمر او بادي انرجی څخه کار اخيستل او داسي نورې لارې چارې شته

## د افغانستان د اوبو د منابعو مديريت

افغانستان د منځنی او سويلي آسيا ترمنځ يو جيو ستراتيجيک هيواد دی. د آسيا پر کچ افغانستان د اوبو له کبله يو ډېر غني هيواد دی. د افغانستان د اوبو زيرمي د نړی په ډېرو هيوادو کي نشته. وسمهال افغان حکومت د اوبو او اوبو بندونو جوړولو پر سر له ډېرو سترو ستونزو او ننګونو سره مخامخ دی.

افغانستان د خپلو اوبو منابعو د نه مديريت له امله د خپل ژوند خورا مهم اسماني ارزښت او شتمني بالقوه خپلو ګاونډيو هيوادونو ته ډالی کوي. د افغانستان نيمايي خاوره غرونه لري، غرونه ډېري وخت په طبيعت کې د اوبو برجونه نومول شوي دي.د ډيرو غرونو له امله افغانستان په سيمه کي د اوبو ډېرې سترې زېرمې لري.

د افغانستان په نامه د څېړنو مرکز د شمېرو په بنسټ، هر کال ۱۹ ميلياره متر مکعبه اوبه پاکستان ته ورځي او ۳۴ ميلياره متر مکعبه اوبه ايران ته ځي. دغو هيوادونو د افغان اوبو ته په خپلو خاورو کي سترې سترې زيرمي جوړې کړي دي. زموږ خاورينه کره ځمکه سخته تبه لري افغانستان د اقليم او هوا تودوښې له امله، د جګړيز ککړ چاپيريال له امله، د توفانو، سيلابونو له امله په شوک کې پروت دی. دې ناوړو حالاتو د افغانانو ژوند په جدي توګه له ګواښونو سره مخامخ کړي دی. که چيرې افغان دولت د اوبو مديريت او وچکالی کړکيچ په برخه کي کوټلي ګامونه وانخلي او خپلې هڅې کرندې نه کړي او د ستونزو په وړاندې عملاً څه ونه کړي. افغانانو ته به له مصيبته ډکې نه رغيدونکي خورا سختې پايلې ولري. د وچکالی ناوړه حالاتو له امله به ميليونو نورو ځاروېو ژوند له ګواښ سره مخامخ شي. ورسره به د افغانستان اقتصاد، چاپيريال او ټولنيز ژوند د له منځه تللو سره مخامخ شي. زيانونه يې د ځلوېښت کلني جګړې په پرتله زيات وي دا راروان اقليمي بدلونونه به افغانستان ته ډېر زړ نوي ګواښونه او نورينونه له ځانه سره راوړي.

په يوويشتمه پيړۍ کې اوبه داسي دي لکه تيل په شلمه پيړۍ کې، راتلونکې جګړې به پر تيلو نه وي، بلکې پر خوږو اوبو پيليږي. په منځني ختيځ او منځنی آسيا کې د اوبو بم په ټک ټکيدو او د چاوېدو په حالت کې دی. د افغانستان ګاونډي هيوادونه د افغانانو له اوبو سره لوبې کوي، هغوې وسمهال افغانستان ته د جګړو ګواښونه کوي.

د پيريو راهيسی د افغانانو د ژوندون درې واړه بنسټيز رګونه د امو، هلمند او د کابل سيندونو اوبه د افغان له خاورې بهر ته بهيږي. په افغانستان کې د سياسي ارادې نه شتون له امله، د اوبو د منابعو د نه مديريت له امله، د خپلو اوبو واک او اختيار نه درلودلو له امله، هيڅ يو افغان چارواکي دا ارزښتمني رواني خوږې اوبه نه ويني، چې چيرې رواني دي؟.

افغان دولت بايد د خپلو بنسټيزو ملي پروژو طرح کولو او خپلو ملي قوانينو تصويبولو کي بايد د اوبو نلکی په خپلو لاسونوکي واخلي او د اوبو سياست کې ملي سترې پريکړه وکړي، ځکه اوبه د افغانستان لپاره يوه خورا مهمه او د ملي حيثيت حياتي موضوع ده، څو ټول افغانان د ښناک پاکو اوبو ته په عادلانه توګه لاسرسي ومومي او د ځانګړو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ادارو له لاري د اوبو ويش څارنه تر سره شي. افغانستان کي د برېښنا ظرفيت هم ډېر لوړ دی، ځکه د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت په وينا، افغانستان وسمهال هر کال ۳۰۰۰ مېګاواټه برېښنا ته اړتيا لري، چي يوازي ۶ سلنه يې په هېواد کي دننه توليدېږي او همداراز نوره برېښنا له ګاونډيو هېوادونو تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او ايران څخه واردېږي.

## افغانستان کي د اوبو سطحي ټيټيدلو ستونزي او ننګوني

افغانستان کي د کالونو راهيسي د څښاک پاکي اوبو موندلو ستونزه شتون لري. په ټول افغانستان کي ۲۷ سلنه وګړي د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی لري. د ټول هيواد په کچه ۱۹ سلنه افغانان د ککړو او ناپاکو اوبو له امله مري. او يا هم په بېلابېلو ناروغيو اخته کيږي. د افغانستان د لويو ښارونو مېشته وګړي د څښاک اوبو له کمښت او د اوبو لړوالي له امله سر ټکوي. د کابل اوبه نور د څښاک پاکي اوبه نه دي.د پلازمېني کابل ښارمېشته وګړي د دولتي شبکو له لارې تر ديرشو سلني پوري د څښاک پاکي اوبو ته لاسرسی لري. همدارنګه ځيني شخصي شرکتونه د څښاک اوبو په رسولو کي هم فعاليت لري. افغانستان کي د وګړو شمېر ډيرېدني له امله په ښارونو کي د اوبو کمښت رامنځته شوي دی.
د اوبو د کمښت لاملونه؛ افغان ښاري وګړو تر ډيره بريده په خپلو کورونو کي په غير معياري او غير مسلکي ډول ژور کوهي يا څاوي کېندل دي. دويم لامل د څو کالونو راهيسي په پرله پسي توګه ژمني موسمونو کي د واورې او بارانونو نه وربښت دی .دا دې لامل ګرځيدلي، څو د ځمکي لاندي د اوبو سطحه راټيټه شي. د کابل ښار ټولي شني سيمې، باغونه او وني له منځه تللي دي. کابل ښار کي تر مځکي لاندي اوبو سطحه تر دوولسو مترو پوري کښته شوي ده. تر ځمکي لاندي اوبو د کچي کښته کېدل يوازي کابل ښار کي نه، بلکي په ټول افغانستان کي کرنه، اقتصاد ټولنيز ژوند يې زيامن کړي دی. د ځمکي لاندي اوبو د ککړتيا لامل د کاناليزاسيون سيستم نشتون دی. د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت ښاريانو ته د اوبو زېرمو جوړولو او د اوبو نوي پر مختللي سيستمونو کاروني له لارې کولای شي، د څښاک اوبو رسولو او اسانتياوو کي موثر ګامونه واخلي.
افغانستان کي د اوبو ستونزه او د وچکالي ناورين خپل ټغر له پخوانه غوړولي دی او ورسره د څلويښتو کلنو راهيسي د لوږي او خوار ځواکي يوه ډيره ناوړه څونامي رارواڼه ده. افغانستان د څښاک پاکي اوبو کمښت د ۹۰ سلني څخه ډير دی. د ډنډو اوبه ککړي دي. په ځانګړي ډول د بيوزلو کليوالو وګړو د ناروغيو لامل ګرځي، همدارنګه افغان کوچيان په هيڅ ډول د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی نلري. د افغان اوړدې جګړې او غميزو کي د خړوبولو يا اوبولو ټول دوديزه سيستمونه، ويالي، کارزونه، کوهي،اړدونه او کانالونه له منځه تللي دي او يا د اوبولو سيستمونه او کليوالي چاپيريال ټول د روسي، امريکايي او د ګاونډيو هيوادونو شيميايي وسلو او بمونو کارولو له وجهي زهرجن شوي او په راډيو اکتيفي وړانګو باندې ککړ شوي دي. د جګړو او ککړ چاپيريال له امله زموږ بي ګناه، بې وزلي خلک په ډيرو خطرناکو ناروغيو اخته شوي دي.
افغان حکومتونو خپلو رواڼو اوبو ته له اقتصادي، سياسي پلوه او د چيړيال ساتني له اړخه سم پام نه دی کړي. د اوبو منابعو او د اوبو زېرمو ته نه پاملرنه يو نورمال حالت ګرځيدلي دی. له دې سره په هيواد کي د اوبو ستونزه او د وچکالي ناوريني حالت رامنځته شوي دی. خوار او نالوستي ولس ته دغه حالت يو نورمال حالت بريښي.
افغان دولت مجبور دی د خپلو نړيوالو ملګرو په مرسته او همکاري دي ملي بېړني اړتيا ته جدي پاملرنه وکړي او ورته نړيوالي مرستي راټولي کړي او د اوبو زېرمي او لوی او واړو بندونو جوړلو پلانونه طرحو باندي کار پيل کړي. افغان حکومت بايد سمندرونو ته لارې خلاصي کړي. د هيواد د بيا روغوني په لړ کي د لويو بريښنايي فابريکي په جوړولو لاس پوري کړي، څو افغانان د سيمي او نړيوالي سوداګرۍ په راکړه ورکړه کي ورګډ شي.
له اوبو پرته انسانانو ته روغتيا او سوکالي، افغانستان ته وده او پرمختګ د سبا سوليز پرمختللي ژوند ناشوني دی.
افغانستان کي اوبه د کوکنارو په کمښت او د زياتيدونکي کر په مخنيوي کي مهم اغېز درلودلي شي. له اوبو پرته د پراختيايي ملي پروژو جوړول ناشوني دي. د اوبه مديريت د بزګرانو په ناوړه اقتصادي حالت او په ټيټه کچه ژوند کي خورا مهم اغېز لرلي شي.
په افغانستان کي د څو لسيزو راهيسي د اوبو کمښت، وچکالي، لوږي او خوارځواکي څونامي رواڼه ده. هرکال په افغانستان د څښاک پاکو اوبو ته د نه لاسرسي‌او د اوبو کمښت او ککړتيا له امله په زرګونه افغانان او ماشومان مري. د واورو له ولي کيدو ورسته سيندونه په سمه کچه اوبه نه لري. کوهي په فني ډول ژور نه دي کېندل شوي، د څښاک اوبه او استعمال شوي اوبه بيرته سره يو ځاي کېږي. په تيره بيا ډير وخت واړه ماشومان په سختو نس ناستي، او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

نورو ناپېژندل شويو ناروغيو اخته کيږي، لکه کولرا، موريقه، ملاريا، ژېړي او داسي نور. افغانستان کي د ماشومانو د مړيني احصائيه له همدې امله په نړۍ کي تر ټولو لوړه ده. هر ځلورم ماشوم مخکي له دې چي پينځه کلن شي مري.
د يادو ستونزو لاملونه، ناامني، وچکالي، د نفوسو زياتوالي، د اوبو معياري بندونو نشتون او د څښاک اوبو د زېرمو نشوالي، د اوبو ناسمه کارونه او هيواد په کرنيز سيستم کي له اړتيا پور ته د اوبو کارول دي.
که د اوبو کمښت په وړاندې سم تدابير غوره نشي، د اوبو کمښت او د اوبو کرکيچ له يوې ورځې تر بلې زياتيزي، د اوبو کموالي او ککړتيا له امله له سترو نه رغيدونکي ستونزو او بشري نورينونو سره مخامخ کيږو.

## د افغانستان د اوبو منابعو مديريت ته د ايران ولسمشر جدي ګواښونه

د افغانستان د اوبو زېرمي، د اوبو بندونه د افغانستان د اقتصادي او کرنيز ځواک لپاره لوی فکتورونه دي. افغانستان د اوبو د لويو بندونو د نړيوال کميسيون غړی هيواد دی.
افغان حکومت په ورستيو دوو کالونو کي خپلي ملي ګټو ته په کتو د اوبو ستري زېرمو ښه مديريت او د بنسټيزو اقتصادي ملي پروژو پلي کولو سياسي اراده او پياوړي هوډ څرګند کړي دی. د اوبو ډيرو بندونو او بريښنايي پروژو جوړوني چارې بشپړي شوي دي. ورسره په افغان ولس کي نوې هيلي توکيدلي دي. وسمهال افغان حکومت د هيواد ملي ګټو په اړانه کي د اوبو نويو لويو او وړو بندونو جوړولو پروژې پلانونه طرحه کړي دي. هڅه کوي د افغانستان رواني اوبه د ښه مديريت له لارې مهار کړي او افغان کروندګر خپلې اوبه پر خپلو ځمکو په ښه توګه ولګوي. د اوبو مديريت له لارې افغانستان پرځان بسيا او په يو توليدي هيواد بدلي شي. له يوه لوري به د اوبو نوي بندونه شاړې ځمکي خړوبه کړي او له بل لوري به په هيواد کي د بريښنا توليد پيل شي، ورسره به صنعت او کرنه وده وکړي، بې روزګارې به لږ شي او د هيواد په ملي امنيت کي به رغنده رول ولوبوي
داسي يو پياوړي خپلواک په ځان بسيا افغانستان په تير بيا ايران او پاکستان نشی زغملې. وسمهال د اوبو د مديت له امله د افغانستان او ايران ترمنځ د اوبو لانجه مخ په زياتيدو شوي ده. د ايران سياسي مشران په ډيره سپين سترګی سره خلاف د ټولو منلي شويو ډيپلوماتيکو نورمونو رسماً خپل مخالفت ښکاره کړي دی او د جګړې ګواښونه کوي.
ايراني مکار او شيطان صفته سياستوال ګوتڅنډني کوي او وايي، که چيرې د افغانستان له لارې د اړتيا اوبه ورنه کړل شي، دوی به په متقابل عمل لاس پوري کړي او په ارامه کيناستي نشي.
د ايران ولسمشر حسن روحاني په تهران کي ,,د ګرد او باد ننګوني او حل لار ي ,,يوه نړيوال کنفرانس کي ويلي,, ايران به په افغانستان کي د کمال خان، کجکي او سلما بندونو جوړولو پر وړاندې بې تفاوته نه شي پاتي کيداي,,.
همدارنګه د ايران د بهرنيو چارو وزير جواد ظريفي ايراني ولسي جرګې ته په يوه وينا کي جدي ګواښ کړي، که افغانستان د هلمند سيند اوبو کي د دوی حقابه د ۱۹۷۳ کال د تړون له مخي ورنه کړي، دوی به په ځوابي اقداماتو لاس پوري کړي. د ايرانيانو دا ګواښ له دې امله شوي، چي په تيرو څو مياشتو کي د هلمند اوبو کي د دوی د برخي لږ اوبه ور بهيدلي دي. دوی په دې تړاو افغان حکومت ته د اعتراض يادښتونه ليږلي دي. او افغان سفير يې بهرنو چارو وزارت ته ورغوښتي دی. په افغانستان کي د بريښنا او اوبو بندونو له جوړولو سره رسماً خپل مخالفت ښکاره کړي دی. ايران په افغانستان کي په دومداره ډول يواځي د سلما بند نه بلکي د کجکي او کمال خان بندونو په ګډون ټولو ملي پروژو سره خپل مخالفت ښکاره کړي. له دې امله افغانستان د خپلو د اوبو د مديريت له کبله د ګاونډيو هيوادنو د جګړو له ګواښونو سره مخامخ شوي دی.
د ايران دا څرګندوني د افغان چارواکو له سخت غبرګونونو سره مخامخ شوې دي. په افغانستان کي د ايران د ګواښونو، ګوتڅنډونو او ځوابي متقابل عمل په وړاندې لاريونه ترسره شول. لاريون کوونکو او مدني فعالانو د هلمند د سيند په اړه د افغان صدراعظم موسی شفق لاسليک شوي تړون پلي کيدو غوښتني کړي. د افغانستان په چارو کي د ايران دا څرګندوني ښکاره لاسوهنه ياده کړي ده. او له ايران سره د ۴۰ کلونو د اوبو حساب او کتاب غوښتني کړې دي. مظاهره کوونکو د خپل ولسمشر د حکومت د بهرنی پاليسي ملاتړ اعلان کړي او د اوبو سياست څخه يې خپل ملاتړ اعلان کړي دی.

## د ايران دولت سره د اوبو تړون ته يوه لنډه کتنه.

په ۱۹۷۳ کال کي افغانستان له ايران سره د هلمند پر اوبو يو تړون لاسليک کړي دی. د تړون له مخي په نورمال کال کي په اوسط ډول په يوه ثانيه کي ۲۲ مکعب متره اوبه او د اړتيا په مهال په يوه ثانيه کي ۴ متره مکعب اوبه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

افغانستان د ښه نیت پر بنسټ ایران ته ورکول کیږي. په تړون کې د اوبو نورمال کال هغه کال ښوول شوي، کله چې هیریرود کې د هلمند اوبه کچه اندازه شي او اوبه د افغانستان له اړتیا څخه زیاتي وي، ایران به په اوسط ډول ۲۶ متره مکعب اوبه ترلاسه کوي. د همدې تړون له مخې کله چې وچکالي او اقلیمي پېښو له امله تر نورمال کال د اوبو کمښت رامنځته شي. د ایران د اوبو حقابه هم کمیږي. د اوبو مدیریت متخصصین او څارونکې په دې اند دي، چې تر اوسه ایران تر خپل حقابه یا حقه زیات اوبه ترلاسه کړي دي. په داسي حال کې ایرانیان له افغانستانه د وربهیدونکي اوبو اندازه قصداً کمه ښیي.

په ایران کې د اوبو کړکیچ رامنځته شوي دی. د ایران د کرنې د وزیر سلا کار افغانستان په دې تورن وي او وایي، افغانستان د ایران په اوبو یرغل کړی دی. ایرانیان د خپلو غلطو تګلارو پړه پر افغانستان اچوي، د ایران د اوبو کړکیچ د دغي هیواد د خپل کورني سیاست محصول دی. د ایران اوبو کړکیچ له افغانستان سره هیڅ تړاو نه لري.

په هغه معاهده یا تړون کې چې څلورلسیزو مخکې لاسلیک شوي دی، د ایران ځښت ډیر مراعت شوي دی. په تړون کې د نړیوالو قوانینو پر بنسټ د ایران د اوبو ونډه ځښته ډیره ښوول شوي ده. د تړون پینځمه ماده په واضع توګه لیکې، ایران تر خپلې حقابې نور اوبه نه شي غوښتلي. د ایران حقابې پرته افغانستان د خپلې اوبو عام تان صلاحیت لري.او د خپلې خوښې سره سم اوبه کارولي شي. همدارنګه افغانستان کولاي شي د خپلې کرنې سیستم لپاره د هلمند پر سیند د اوبو زېرمې اوبو بندونه جوړې کړي. ایران د اعتراض حق نه لري. کله چې د هلمند د سیند د اوبو پر سر لانجه رامنځته کیږي. په دې اړه د یو پروټوکول په بنسټ یو شمېر نور مادې هم لیکې شوي دي. لانجه باید د ډیپلوماټیکو خبرو اترو له لارې هواره شي. د پروټوکول پر بنسټ د تړون عملی کیدو او څارنې لپاره د دواړو خواو څخه یو ګډ کمیسیون ټاکل کیږي. دوی به دا رامنځ ته شوي ستونزه حلوي. د ایران اخوندې شوونیستي رژیم د ټولو نړیوالو منلي شویو قوانیو او نورمونو خلاف د کمیسارانو ناستي ته غاړه نه ږدي او د ځوابي اقدامونو ګواښونه کوي. په ۱۹۸۴ کال کې افغانستان د هلمند د اوبو په اړه د ایران تخلفاتو په اړه یو څېړنیز راپور خپور کړي دی. په دغه راپور کې په تېرو ۲۷ کلونو کې ایران ته د ورغلو اوبو دقیق ارقام ښوول شوي دي. په لنډه توګه د راپور له مخې ایران ته هر کال په اوسط ډول څو چنده زیاتي اوبه ورغلي دي. ایران په خپله خاوره کې د افغان پولې ته نږدې تر ۴۰ بندونه، کانالونه او ډنډونه جوړ کړی دي او ماشینونه او واټرپمپونه لګولي دي. افغانستان ته څاڅکی اوبه نه ور پریږدې. ایران خپلې اوبو تر خپل کنټرول لاندې راوستي دي. د ایران د دې تاسیساتو جوړولو له امله د افغانستان د نیمروز ولایت خلک د څښاک اوبه نه لري. افغانستان ته یې د اوبو ورتګ بالکول بند کړی دی. خو افغانستان تر اوسه ایراني اخوندي رژیم نه دی ګواښلي او نه یې د ځوابي اقداماتو ګواښونه کړي دي. د افغان حکومتونو له لوري د ایران په وړاندې تر اوسه هیڅ اقدامات نه دي لیدلي شوي.

کلونه کلونه کیږي چې د افغانستان اوبه له اغیزناکې کارونې او کنټرول پرته ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان ته وربهیږي. وسمهال افغان حکومت د اوبو د مدیریت لپاره ستر ستر پلانونه لري او هوډ څرګند کړي، د خپل هیواد اوبه کنټرول کړي، څو ګاونډي هیوادونه ترې وړیا ګټه وانه خلي.

د افغانستان د اوبو سیاست او د اوبو منابعو د هر اړخیزه مدیریت کې یو لړ جدي ستونزې شته دي. په دې برخه کې ډیرو کارونو ته اړتیا لیدل کیږي .د هیواد د اوبو پراختیا اوښه مدیریت کې د سیمې هیوادو ګټې خوندي دي او ګاونډي هیوادونه باید د افغانستان د اوبو د بندونو له جوړولو او شبکو څخه اندېښنه ونه کړي، بلکې ورسره همکاري او ملاتړ وکړي. د بېلګې په ډول د سلما بند ,,د افغان هند د دوستۍ بند,, په نامه نومول شوي دی. دا بند د هند هیواد په مالي مرسته جوړ شوي دی. د سلما بند د افغانستان او هند د دوامداره اړیکو سېمبول ګرځیدلی دی.

وسمهال لکه چې یادونه وشوه، افغانستان په خپله د اوبو له کمښت سره مخامخ دی او ورسره د اوبو کاورلو کچه زیاته شوي ده. د افغانستان شمالي ولایتونه د اوبو کمښت له امله د وچکالۍ له ګواښونو سره مخامخ دي. په ټول افغانستان کې د واورې او ورښتونه کمښت لیدل کیږي. یاد لاملونو خپل اغېز د هلمند د سیند پر اوبو هم غورځولي دی.

د هلمند د سیند په اوږدو کې بزګران رواني اوبه وینې، رواني اوبو ته ورتللي شي، په اوبو کې لاسونه او پښې منځلې شي، خو په ډیره خواشینۍ او مایوسۍ سره بیرته له اوښکو ډکو سترګو خپلو کورنو او خپلو شاړو ځمکو ته ستانه کیږي او خپلې رواني اوبه وینې چې ایران ته وربهیږي، خو د بې وسۍ او بیچاره ګۍ له مخې خپلې خوړې اوبه خپلو ځمکو ته نشي را اړولي. د افغانستان د سیندونو په اوږدو کې د سیند پر غاړه سپیره ډاګونه پراته دي.

وسمهال افغانانو دا وړتیا موندلي څو د خپلې اوبو زېرمې مدیریت کړي او وسره د اوبو بندونه د اوبو زېرمتونه او د برېښنا کوټونو پلانونه جوړوي. افغان حکومت د برېښنا بندونو جوړولو هڅې پیل کړي دي د هندوستان، چین، او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترکيي هيوادونو په ګډون ترونونه لاسليک کړي دي. د هرات سلما بند د دوست هيواد هند په مرسته جوړ شوي. د کونړ پر سيند د اوبو بند جوړولو ترون د چين هيواد سره لاسليک شوي.
د اوبو او بريښنا کمښت او د اوبو د نه مديريت ستونزې له امله افغانستان دې ته اړ شوي، څو له ترکمنستان، تاجکستان او نورو هيوادنو څخه بريښنا وارده کړي.
افغانان پوهيږي دا يو طبيعي حالت دی، ايران او پاکستان به خامخا د اوبو مديريت نارامه کوي، دوی دا بندونه د ځان په زيان ويني او خپلې ګټې په افغانستان کې له لاسه ورکوي او د افغان اوبو د مديريت له چارو سره به خپل سياسي حساسيت او مخالفت ښکاره کوي. د جګړې ګواښونه به کوي. ايران د افغان حکومت وسله وال مخالفينوسره د وسلو او پيسو مرستې کوي او په وسلو يې سمبالوي. څو د اوبو د سر بندونو د رغولو او ودانولو چارو کې خنډونه جوړ کړي او د بريښنا ستر بندونه تخريب کړي.

## لنډيز او وړانديز :

افغانستان يو غرنی او په وچه کې راګير هيواد دی. دلته د نړۍ د هرې بلې سيمې په پرتله په نږدې راتلونکي کې د اوبو پر سر د شخړو او جګړو شونتياوې ليدل کيږي. افغانستان کې اوبه له ملي شتمنيو څخه ګڼل کيږي او عادلانه وېش يې په هيواد کې د ملي يووالي او ثبات لامل ګرځي.
د افغانستان د نن او سبا د اوبو د منابعو مديريت د افغان ولس او افغان حکومت يو لومړيتوب دی. د شمېرو له مخې که په افغانستان کې د بريښنا بندونه جوړ شي، افغانستان به پر ګاونډيو هيوادونو خپله بريښنا وپلوري. افغانستان د خپلې بريښنا د توليدولو لپاره په ډېرو سيمو کې د بريښنا د بندونو جوړولو ته ورتيا او له خپلې اړتيا څخه د زياتې بريښنا د توليد ظرفيت لري، خو دا مهال يې زياتره اوبه ګاونډيو هيوادونو ته وربهيږي او د بريښنا تر څنګ د کرنې په برخه کې هم کار نه شي ترې اخيستلې.
د کرنې د پرمختګ په برخه کې اوبه او بريښنا مهم فکتورونه دي، د افغانستان د کرنې سيکوتور په وړاندې وچکالی او نامنی ستر خنډونه دي.
افغانان مجبور دي د خپلو د اوبو بندونو مديريت د خپلې خاورې ځمکنۍ بشپړتيا په څير تيرينه ساتنه وکړي. د ايران او پاکستان حکومتونه بايد په دې وپوهول شي، چې تر ټولو لومړۍ افغانستان او افغانان دي. دا رواني بهيدونکي اوبه د افغانانو خپل حق دی. که ايران تيل او د اوبو بندرونه لري. که پاکستان سمندري بندرونه او د ترانزيت لار لري. افغانستان هم د اوبو ډيرې سترې زيرمې او د مرکزي آسيا د ترانزيت لارې په اختيار کې لري.
افغان ولسمشر غني ويلي دي، حکومت يې د هيواد د اوبو مديريت لپاره منظم پلانونه لري، په دې برخه کې د هيڅ هيواد مداخله نه منې د نومړي په وينا، اوبه تر جغرافيايي موقعيت وروسته د افغانستان دويمه ستره شتمنې ده او افغانستان غواړي له دې برخې په لوړه کچه عايدات ولري. د افغانستان ۸۰ سلنه وګړي په کرنه کې بوخت دي، خو بيا هم کرنيز محصولات له بهره واردوي. افغانستان د بندونو جوړولو سره به په خپله د کرنيزو محصولاتو په صادرونکي هيواد بدل شي.
زه خپله ليکنه د جرمن واچ په نامه يو څيړنيز مرکز په څيړنو رالنډه وم، جرمن واچ ليکي؛ افغانستان د اقليمي بدلون له امله په ګواښمنو هيوادونو کې شمېرل کيږي. افغانستان په دې ورستيو کې پر امنيت سربيره له اقليمي له اړخه هم له ګواښونو سره مخامخ ګڼل کيږي. جرمن واچ څيړنيز مرکز وايي، افغانستان د بيوزلی له وجې د هغو هيوادونو په ليست کې دی، چې د اقليمي بدلون له امله له لوړو ګواښنو سره مخامخ دی.
له شکه پرته افغانستان په ورستيو څو کلونو کې د وچکالی، سيلابونو، د اوربښتونو د کموالي او تودوښې درجې د لوړوالي له امله ډير زيانمن شوی دی.
له يوه لوري حکومت د عامه، دولت او شخصي ملکيتونو په ساتنه کې مکلف دی. له بل لوري حکومت کولای شی د نړيوالې ټولنې ملاتړ او همکارې د اقليمي بدلون زيانونو په مخنيوي کې راجلب کړي. او له ګاونډيو هېوادونو سره د اوبو د وېش پر سر په تړونونو کې د دوی له حقبې اضافي اوبو پر دوی وپلوري. او د ګاونډيو هيوادونو سره د اوبه پر سر شته ستونزې په قانوني توګه حل کړي. افغان حکومت هوډ څرګند کړي چې د نړيوالو قوانينو له مخې پر خپلو اوبو بريښنا بندونه جوړوي او ايران ته به د لاسليک شوي ترون له مخې د اوبو حق ورکوي.
اوسنۍ جګړې په تورو زرو يعني تيلو دي. د يوويشتمې پيړۍ جګړ به پر اسماني سرو زرو يا پر اوبو وي. څوک چې د موږ له اوبو سره لوبې کوي، هغوی موږ ته د جګړې اعلان کړي دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

د افغانستان د اوبو، د اوبو بندونو، ځنګلونو او چاپېريال ساتنې په اړه يو ښو وړانديزونه، تر ټولو لومړۍ دا يادې شوې ارزښتونه د افغان دولت د لومړيتونو څخه بايد وګڼل شي.
۱ . د ځنګلونو وهل بايد ودرول شي او هممهاله د ځنګلونو ساتنه او پالنه د کرنې د نوي پرمختللي تخصصي پوهې پربنسټ تر سره شي.
الف، د چاپيرېال ساتنې په اړه د ولسي پوهاوي کمپاينونه را منځ ته شي.
ب . د چاپيرېال ساتنې شنې قطعې رامنځته کولو لارې چارې بايد ولټول شي
ت . د لرګيو د قاچاق مخنيوي او د موجوده لرګيو څخه په فني او مسلکي توګه ګټه اخيستنه وشي.
ث . د چاپيرېال ساتنې حرفوي مسلکي زده کړوښوونځيو او مرکزونه رامنځته کړل شي.
ج . د وهل شويو ځنګلونو بيارغول عملي پلانونه طرحه شي.
۲ . د هوا او اوبو ککړتيا څخه د مخنيوي په موخه اړينه ده، ښو د ځمکې پر مخ د فضله موادو د بې ځايه غورځولو څخه ډډه وشي او په فني توګه بيا تيرنه کار واخيستل شي.
۳ . په سترو ښارونو کې د وداني جوړول د ماستر پلان له مخې تر سره شي.
۴ . افغان ولس ته د لمريزي او بادي انرجۍ کارونه او تخنيکي اسانتياوو برابرول.
۵ . د ځمکې لاندې اوبو څخه موثره ګټه اخستنه او له ککړتياوو څخه يې مخنيوي.
۶ . د معياري او مسلکي څاګانو کيندلو اسانتياوې بايد رامنځ ته شي.
۷. د اوبو مهارولو او زېرمولو لپاره د بندونو جوړول
۸ . په نړيوال سترندرد د اوبو څخه په اغېزمنه توګه ګټه اخيستنه او د هغوي مديريت له پاره پلانونه طرحه کول .
۹ . د افغانستان د اوبولو دوديزه سيستمونو لکه ويالې، کارريزونه، کانالونه، اړډونه او د اوبو ډنډونه بيا رغول.
۱۰ . د معياري او خوندي اوبو بندونو جوړولو او د اوبو مديريت طرحې بايد را منځ ته شي
۱۱ . په ټول هيواد کې د زرغونوسيمو رغول بايد پيل شي.
۱۲ . حکومت بايد د سيند اوبه د کروندګرو ځمکو ته پورته کړي او د افغان کروندګرو کرنې ته پراختيا ورکړي.
۱۳ . د ځړ ځايونو پالل او بيا رغول پلانونه طرحه شي.
۱۴ . دې مسلکي او تخصصي چارو ته د مسلک پرسونل روزل اړين دي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ